رفيع الله « مندوخيل »

د نشر نېټه : ۱۵ مې ۲۰۱۲ میلادی

## « سترګه دسبا »
## شعري ټولګي مخکتنه او مشاعره !




د سوهيلي پښتونخوا د کلا سيف الله د ځوان تکړه شاعر او ليکوال جمال ناصر جمال د لومړۍ شعري ټولګې سترګه دسبا د مخکتنې دستوره د هيواد ادبي يون له خوا د کلاسيف الله د اسمبلۍ په تالار کې وسوه، چې په کې د کلاسيف الله په شمول د کوټې، ږوب، بوري، سنځاوۍ، دکۍ، موسى خيل ، زيارت ، بوستان، چمن، پښين، هرنايي، مسلم باغ او نورو سيمو په لسګونه شاعرانو، ليکوالانو فرهنګيانو او د ادب مينه والو برخه لرله .
غونډه سهار لس بجې د قاري جمال الدين مساپر د قرآن عظيم الشان د څو مبارکو آياتونو په تلاوت سره رسماَ پيل سوه .

د غونډې مشر مبلمه ليکوال عمرګل عسکروو، له نوموړي سره په څنګ کې پر سټېج يا دريځ شاعر او ليکوال خيرمحمد عارف، ډاکټر شفيق، ډاکټر لياقت تابان ، خان زمان کاکړ او جمال ناصرجمال هم ناست وو . د سټيج چارې اميرمحمد ليکوال پر مخ بيولې .
له تلاوت وروسته د مقالو لړۍ پيل سوه او خيرمحمدعارف ، سربازپښتون، محمدطاهرهوتک ، صادق ژړک، جمال الدين مساپر، ډاکټر لياقت تابان، رشيدحقمل، عصمت الله زهير، دامان او

عمرګل عسکر د پښتنو پر ژوند او تاریخ خپلې مقالې واورولې او جمال ناصر جمال ته یې پر کتاب چاپولو توده مبارکي ورکړه.




د شاعرۍ ستاینه یې وکړه او دا یې د پښتو ژبې د غني کېدو او پر مختګ په برخه کې یوه ښه هڅه او د پښتو شاعرۍ د روان بهیر د لړۍ یوه زرینه کړۍ وبلله . او جمال یې یو خوږ ژبی او په اوسني عصر کې د غزل د برخې یو وتلی شاعر یاد کړ .
د ږوب د سیمې یو تکړه شاعر او لیکوال سرباز پښتون د خپلې مقالې په یوه برخه کې وویل:
چې پښتونخوا د بیلا بیلو تهذیبونو د پنځونې او خوندي ساتلو ځانګو او د نړۍ د ښکیلاکي زورورو قامونو د یرغلونو ځلور لاره اوسېدلې ده .





www.said-afghani.org

د سیمي خلک په جنګ او اخ و ډب کې ښکیل پاته سوي دي . که څه هم دلته پښتو ادب ته په ښپیره توګه پاملرنه نه ده سوې او هیڅا هم پښتانه د نورو قامونو په څیر د پوهې تر لاسه کې دو ته نه دي پرې ایښي، چې پښتو ادب ته دي وده ورکړي . خو بیا هم دا سیمه د پوهې او ادب په ډګر کې خپله ښپیره ونډه لري . چې لرغنتوب یې د رګوید او اویستا تر ادبیاتو پورې رسیږي . هغه زیاته کړه، چې د پښتنو له ګوتو قلم په زوره تروړل سوی او دوی په لوی لاس له پوهې لرې ساتل سوي دي . په سوهیلي پښتو نخوا کې نه خو په مورنۍ ژبه کې د ذده کړې ضمینه مساعده ده او نه یو داسي په اصطلاح پلیټ فارم سته چې پښتو ادب د ودې پر لور خوځښت وکړي .



دلته د پښتنو سره د واکمنانو له خوا د محکوم اولس په توګه چلند سوی دی .
نوموړي وویل چې د پوهنځیو او فرهنګي شتمنیو لاس ته راوړنه نه یوازې د یو ملت د کلتور په رغونه کې زښت ارزښتمن رول لوبوي بلکې د هغې ټولنې د بنسټ پیلامه هم ګرزي .
که پخوا شعر د کړو وریځو، خمارو سترګو، تورو زلفو او د بیلتون په چاپیریال کې لیکل کېدی، خو نن شاعر که یوې خواته د بزم خبرې کوي خو بلې خواته یې رزم، مبارزه او قامي ستونزې یې هم له پامه نه ده غورځولې .
پښتون یا افغان د اسیا په زړه کې پروت یو داسي ننګیالی او پر خپله خاوره او پردود دستور باندي مئین ملت دی، چې کله یې هم پر چا تیری نه دی کړی او ن یې د جنګ لمبو ته لمن وهلې ده .
سرباز وویل چې زموږ اوسمهالي شعر ښه پرمختګ کړی دی .

خو يو بل ليکوال خان زمان کاکړ بيا د نه پرمختګ لامل په پښتو ادب کې د نقادانو نه شتون وباله . او ويې ويل چې موږ له نړۍ سره هم ږغي نه يو او نه مو له نړۍ سره خپل نظريات شريک کړي دي .

وتلي شاعر ډاکټر لياقت تابان په خپله مقاله کې ادب د ميني او اخلاص لاروبلله اوويې ويل : چې له کابل او کندهار وروسته سوهيلي پښتونخوا د پښتو مرکز ګرځيدلي ده . خو له بده مرغه په ټوله پښتونخوا کې کتابتون نشته . او د شاته پاته کېدو لامل د کتابتون نشتوالی او ځيني نوري ستونزې دي .



د پښين سيمي تکړه ليکوال او د حسنی مجلې مسوول مدير عصمت الله زهير بيا له پښتنو په تېره بيا له شاعرانو او ليکوالانو ناهيلی او په زړه دروند وو، او وويل چې زموږ په منځ کې دوستي او ورورولي شتون نه لري . تر څو چې پښتانه لاسونه سره ور نه کړي، سره يوموټی نه سي او په ګډه کار ونه کړي، پر مختګ د خوب ليدل دي .

ليکوال خيرمحمدعارف په خپله مقاله کې په شاعرانو ږغ وکړ، چې دوی بايد په خپلو شعرونو کې د سولې او ورورولی ارزښتونه راونغاړي . او دپيغام په ډول يي تولني ته وړاندي کړي .

د غونډې لومړی برخه ماسپښين دري بجې پاي ته ورسېده . له هغه وروسته مېلمنو ته ډوډۍ ورکړل سوه .

دوهمه برخه مشاعرې ته ځانګړې سوې وه، چې د شپې نهه بجې پيل سوه .

دمشاعرې مشرميلمه مولوي عصمت الله حقيار وو . پر دريځ عبدالمالک زهير، بارکوال مياخيل، سرباز پښتون، محمدطاهر هوتک، نظام الدين نظامي، نواز قايل، صالح محم دسارنګزی، محمد نعيم شاکر، محمداسحاق کارګر او صابر روشان هم ناست وو . د ستيج چارې د واجد تړي او محب الله محسن پر غاړه وې .

مولوي عصمت الله حقيار، قاري جمال الدين مساپر، صالح محمد سارنګزي، صابر روشان، عبدالمالک زهير، محمدنعيم شاکر، محمداسحاق کارګر، نوازقايل، محمد طاهرهوتک ، سرباز پښتون، عبدالقادرمجرم، بشرمل ناصر، ابراهيم ارمان، محمدطاهرلېوال، عظيم ارمان ، خان زمان کاکړ، محب الله شېراز، اميرمحمدليکوال، مير حسن خان اتل، جمال ناصرجمال، رحمت زلمي مندوخېل، ډاکټر محمدشفيق، محمدعلي عمري، عبدالغفارپښتون، حبيب الله خوشال، رزاق پښتون، فضل الرحمن لايق، رحمت عالم، عطوجان عاجز، عبدالستار راياب، لال محمد عاصم، حميدالله سيال، حبيب الله ثاقب، ګلزارعاصم، اخترنيازمن، حيدروقار، حکيم طلبګار، ظفرفدا، عنايت الله بسمل، حسين عالم حسين، شاه محمد مسرور، سليم اولسيار، دوست محمد دوست، روزي محمد، عزيزاحمد عزيز، روزيِ دلسوز، رحمدل بارکوال مياخيل ، مطيع الله محتاج، خدائيداد شبګير، زاکرزيارتوال، فيروزنګار، نظام الدين نظامي، محمدرسول دلپزير، نادرخان فريادي، عاصم خان الخوازي، رحمت واقف، ازادخان ازاد، غلام جيلاني ساج، اغيزساپي، سميع الله شمشير، حيات مندوخېل، عبدالمالک بهار، ستار بشرمل، تمثيل ناصر، ولي محمد ولي، عبدالمالک مهترزي، کريم الله سودايي، نقيب افغان، کمال خان اندېش، حاجي عبدالحق، مولوي عبدالوکيل خيالي، ډاکټرامينې او نصيب الله نصيب خپل خواږه شعرونه واورول . چې ګډون والو په تودو چکچکو او ولولو بدرګه کړل .
مشاعره د شپې څلور بجې پای ته ورسيده .



چې جانان مي په کې نه وي دا وطن مي دي اور واخلـــي
چې په عشق کې توره نه سوه دا لمن مي دي اور واخلـــي
خود به ستايم هغه څوک، چې د پښتو ژبې خدمـــت کړي
د پښتو لباس کې پټ هر يو دښـــــمن مي دي اور واخلي
تر هر چا دي رسومه اې زما پښتنـــــــــــــــې ژبې
که مي دغسې ونه کړو نو ســـــــخن مي دي اور واخلي
(جمال)